قاصد
QASED
Strategic Research Center

# راصد

## ۴۷مه ګڼه

(۲۷ مارچ – ۲ اپرېل ۲۰۲۰م)

(۸–۱۴ حمل ۱۳۹۹ هـ ش)

## د افغان جګړې د مرګ‌ژوبلې اوونيز راپور



راصد اوونيز راپور په افغانستان کې د جګړو او امنيتي پېښو له کبله ښکېلو لورو او ملکي خلکو ته اوښتې مرګ‌ژوبله په دقيق ډول څاري. په دغو راپورونو کې د جګړې له کبله د اوښتې مرګ‌ژوبلې شمېرې د افغان حکومت د سرچينو، د طالبانو د سرچينو، په سيمه کې عيني شاهدانو او نورو بېلابېلو ادارو او باوري سرچينو د معلوماتو له مخې راټولېږي. د دغو راپورونو اساسي موخه د روانې جګړې درنو زيانونو ته د ټولنې د نخبه پاړکي، واکمنو چارواکو او مسؤولو لورو او همدا راز نړېوالو جهتونو پام رااړول دي.


www.qased.org

info@qased.org

077 281 58 58

## سریزه

دغه راپور د ۲۰۲۰م کال د مارچ له ۲۷مې د اپرېل تر ۲مې (د ۱۳۹۹ لمریز کال د وری له ۸مې تر ۱۴مې) نېټې پورې د هېواد په بېلابېلو سیمو کې د جګړې له کبله د اوښتې مرګ‌ژوبلې شمېرې رانغاړي. دا اوونۍ د هېواد په کچه ټول ۲۶۰ تنه وژل شوي او ۱۴۵ نور هم ټپیان شوي دي.

د راپور د شمېرو له مخې، دا اوونۍ په هېواد کې د جګړې له کبله د اوښتې مرګ‌ژوبلې کچه د تېرې اوونۍ په پرتله ټیټه شوې ده. تېره اوونۍ په ټول هېواد کې ۴۷۱ تنه وژل شوي او ټپیان شوي وو، خو په دې اوونۍ کې ټول ۴۰۵ تنه وژل شوي او ټپیان شوي دي.

په دې اوونۍ کې د افغان ځواکونو د مرګ‌ژوبلې کچه د تېرې اوونۍ په پرتله ټیټه شوې وه. د افغان ځواکونو د مرګ‌ژوبلې تر ټولو خونړۍ پېښې په بدخشان، بغلان، جوزجان، تخار او دایکنډې ولایتونو کې وشوې، چېرته چې د دولت د وسله‌والو مخالفینو په بریدونو کې لږ تر لږه ۳۴ امنیتي سرتېري ووژل شول او ۲۴ نور ټپیان شول.

د ملکي وګړو د مرګ‌ژوبلې کچه هم د تېرې اوونۍ په پرتله د کموالي ښودنه کوي. د ملکي مرګ‌ژوبلې تر ټولو خونړۍ پېښه په هلمند ولایت کې وشوه، چې لږ تر لږه ۸ تنه ملکي وګړي پکې ووژل شول.

په بل اړخ کې د دولت د وسله‌والو مخالفینو د مرګ‌ژوبلې کچه هم د تېرې اوونۍ په پرتله د کموالي ښودنه کوي. طالب جنګیالیو ته هم ډېره مرګ‌ژوبله په فاریاب، غور، او جوزجان ولایتونو کې اوښتې ده.

په دغه راپور کې د افغان ځواکونو، د دولت د وسله‌والو مخالفینو او د ملکي خلکو د مرګ‌ژوبلې شمېرې او جزئیات لولئ. همدا راز د راپور په وروستۍ برخه کې د هېواد د ټولیز امنیتي وضعیت او مهمو امنیتي پېښو په اړه تحلیل لولئ.

## افغان ځواکونو ته اوښتې مرګ‌ژوبله

**د مارچ ۲۷مه:**

د جوزجان ولایت په مردیان ولسوالۍ کې د افغان ځواکونو او وسله‌والو طالبانو ترمنځ په وسله‌واله نښته کې، ۳ سیمه‌ییز پولیس وژل شوي او ۲ نور ټپیان شوي دي.

د هرات ولایت په شینډنډ ولسوالۍ کې د وسله‌والو طالبانو په برید کې، یو پولیس افسر وژل شوی او یو بل ټپي شوی دی.

**د مارچ ۲۸مه:**

د بدخشان ولایت په جرم ولسوالۍ کې وسله‌والو طالبانو د افغان ځواکونو پر څلورو امنیتي پوستو بریدونه وکړل، چې له کبله یې ۱۰ امنیتي سرتېري وژل شوي او ۳ نور ټپیان شوي دي.

په سرپل ولایت کې په یوه امنیتي پېښه کې یو د عامه نظم پولیس وژل شوی او یو بل ټپي شوی دی.

د بادغېس ولایت په آبکمري ولسوالۍ کې د افغان ځواکونو او وسله‌والو طالبانو ترمنځ په وسله‌واله نښته کې، ۳ پولیس وژل شوي او ۴ نور ټپیان شوي دي.

وسله‌والو طالبانو د کندز ولایت د علي‌آباد ولسوالۍ په ارباب رمضاني سیمه کې د افغان ځواکونو پر امنیتي پوسته برید وکړ، چې له کبله یې ۲ پولیس وژل شوي دي.

د کندز ښار د دویمې امنیتي حوزې اړوند سیمه کې د وسله‌والو طالبانو په کمین کې، یو د ملي اردو سرتېری وژل شوی دی.

**د مارچ ۲۹مه:**

د تخار ولایت په خواجه غار ولسوالۍ کې وسله‌والو طالبانو د امنیه قوماندان پر کور برید وکړ، چې له کبله یې ۱۲ سیمه‌ییز پولیس وژل شوي او ٦ نور ټپیان شوي دي.

د بغلان ولایت په سرخ کوتل سیمه کې وسله‌والو طالبانو د افغان ځواکونو پر امنیتي پوسته برید وکړ، چې له کبله یې ۵ امنیتي سرتېري وژل شوي او ۵ نور ټپیان شوي دي.

په دایکندي ولایت کې د افغان ځواکونو او وسله‌والو طالبانو ترمنځ په وسله‌واله نښته کې، ۴ امنیتي سرتېري وژل شوي او ۸ نور ټپیان شوي دي.

وسله‌والو طالبانو په کندز ښار کې پر مرکز کې پر افغان امنیتي ځواکونو برید وکړ، چې له کبله یې یو د ملي امنیت سرتېری وژل شوی دی.

د سرپل ولایت په مرکز کې د وسله‌والو طالبانو په برید کې یو د ملي اردو سرتېری وژل شوی او یو بل ټپی شوی دی.

**د مارچ ۳۰مه:**

د زابل ولایت په ارغنداب ولسوالۍ کې د وسله‌والو طالبانو په برید کې ٦ د ملي اردو سرتېري وژل شوي دي.

د فارياب ولایت د قيصار ولسوالۍ په صوفي قلعه ولسوالۍ کې ۲ امنيتي سرتېري په بېلابېلو امنيتي پېښو کې وژل شوي دي.

د هلمند ولایت د کجکي ولسوالۍ اړوند سيمه کې د وسله‌والو طالبانو په برید کې، ۲ امنيتي سرتېري وژل شوي او ۲ نور ټپيان شوي دي.

د بادغيس ولایت د مقر ولسوالۍ اړوند سيمه کې د وسله‌والو طالبانو په برید کې یو پولیس افسر وژل شوی او ۲ نور ټپيان شوي دي.

د جوزجان ولایت په مرديان او قرقين ولسواليو کې د افغان ځواکونو او وسله‌والو طالبانو ترمنځ په وسله‌واله نښته کې، ۳ امنيتي سرتېري وژل شوي او ۴ نور ټپيان شوي دي.

د بغلان ولایت په بغلان مرکزي ولسوالۍ کې د وسله‌والو طالبانو په برید کې ۴ سيمه‌ييز پولیس وژل شوي دي.

وسله‌والو طالبانو د بلخ ولایت په زاري ولسوالۍ کې د افغان ځواکونو پر یوه امنيتي پوسته برید وکړ، چې له کبله يې یو دولت پلوی سرتېری وژل شوی او یو بل ټپي شوی دی.

د کابل ښار په قاضي پلازا سيمه کې د ملي امنيت د يوې ښځينه لوړپوړې چارواکې په موټر پورې د نښلول شوي ماين د چاودنې له کبله، نوموړې وژل شوې او ۳ تنه نور ټپيان شوي دي.

**د مارچ ۳۱مه:**

د کندز ولایت د دشت ارچي ولسوالۍ په قولق سيمه کې د افغان ځواکونو او وسله‌والو طالبانو ترمنځ په وسله‌واله نښته کې، یو د ملي اردو سرتېری وژل شوی او ۳ نور ټپيان شوي دي.

**د اپریل لومړۍ:**

د ميدان وردګو ولایت د سيد آباد ولسوالۍ په هفت آسياب سيمه کې وسله‌والو طالبانو د ملي اردو سرتېرو پر یوه موټر برید وکړ، چې له کبله يې ۳ د ملي اردو سرتېري وژل شوي دي.

د بادغيس ولایت د مقر ولسوالۍ په قرقچ سيمه کې په یوه امنيتي پېښه کې، دوه پولیس وژل شوي دي.

**د اپریل ۲مه:**

د کاپيسا ولایت په نجراب ولسوالۍ کې د افغان ځواکونو او وسله‌والو طالبانو ترمنځ په وسله‌واله نښته کې، ۲ سيمه‌ييز پولیس وژل شوي او ۱۱ نور ټپيان شوي دي.

د بادغیس ولایت د مقر ولسوالۍ په خارستان سیمه کې د افغان ځواکونو او وسله‌والو طالبانو ترمنځ په وسله‌واله نښته کې، ۲ د ملي امنیت سرتېري او ۴ سیمه‌ییز پولیس وژل شوي او ۲ نور ټپیان شوي دي.

وسله‌والو طالبانو د بدخشان ولایت په یمګان ولسوالۍ کې د سیمه‌ییزې اردو پر سرتېرو برید وکړ، چې وروسته نښته رامنځته شوه او له کبله یې دوه سرتېري ووژل شول.

د کندهار ولایت په سپین بولدک ولسوالۍ کې د سیمه‌ییزو پولیسو قوماندان د یوه ناپېژاند وسله‌وال په برید کې ووژل شو.

**جدول-۱: افغان ځواکونو ته اوښتي مرګ‌ژوبله:**

| نوم | وژل شوي | ټپیان | ټول وژل شوي او ټپیان |
|---|---|---|---|
| ملي اردو | ۲۴ | ۷ | ۳۱ |
| پولیس | ۵۷ | ۵۲ | ۱۰۹ |
| مجموعه | **۸۱** | **۵۹** | **۱۴۰** |

## د دولت د وسله‌والو مخالفینو مرګ‌ژوبله

**د مارچ ۲۷مه:**

د فاریاب ولایت په غورماچ ولسوالۍ کې د افغان ځواکونو او وسله‌والو طالبانو ترمنځ په وسله‌واله نښته کې، ۴ وسله‌وال طالبان وژل شوي او ۸ نور ټپیان شوي دي.

د غور ولایت په شهرک ولسوالۍ کې د افغان ځواکونو په برید کې، ۱۳ وسله‌وال وژل شوي دي.

د جوزجان ولایت په مردیان ولسوالۍ کې د افغان ځواکونو او وسله‌والو ترمنځ په وسله‌واله نښته کې، ۷ تنه وسله‌وال طالبان وژل شوي دي.

د هرات ولایت په شینډند ولسوالۍ کې د افغان ځواکونو او وسله‌والو طالبانو ترمنځ په وسله‌واله نښته کې ۲ وسله‌وال طالبان وژل شوي دي.

د هرات ولایت په کرخ ولسوالۍ کې د افغان ځواکونو په عملیاتو کې ۹ تنه وسله‌وال طالبان وژل شوي دي.

**د مارچ ۲۸مه:**

د تخار ولایت په خواجه بهاوالدین ولسوالۍ کې د افغان ځواکونو او وسله‌والو طالبانو ترمنځ په وسله‌واله نښته کې ۴ تنه وسله‌وال طالبان وژل شوي او ۳ نور ټپیان شوي دي.

د پکتیا ولایت په روحاني بابا سیمه کې ۴ تنه وسله‌وال طالبان د خپل ماین په چاودنه کې وژل شوي دي.

د جوزجان ولایت په مردیان ولسوالۍ کې د افغان ځواکونو په برید کې، د وسله‌والو طالبانو د قوماندان په ګډون ۷ تنه وژل شوي دي.

د زابل ولایت په بریامانده سیمه کې د افغان ځواکونو او وسله‌والو طالبانو ترمنځ په وسله‌واله نښته کې ۳ تنه د دولت وسله‌وال مخالفین وژل شوي او ۳ نور ټپیان شوي دي.

د بغلان ولایت په بغلان مرکزي ولسوالۍ کې یو ځانمرګی بریدګر هدف ته له رسېدو مخکې د خپل ماین په چاودنه کې وژل شوی دی.

د کندز ښار د دویمې امنیتي حوزې اړوند سیمه کې د افغان ځواکونو او وسله‌والو طالبانو ترمنخ په وسله‌واله نښته کې، ۲ وسله‌وال طالبان وژل شوي او ۴ نور ټپیان شوي دي.

**د مارچ ۲۹مه:**

په بغلان ولایت کې د افغان ځواکونو او وسله‌والو طالبانو ترمنځ په وسله‌واله نښته کې ۱۳ وسله‌وال طالبان وژل شوي او ۱۲ نور ټپیان شوي دي.

په کندز ولایت د دریمې امنیتي حوزې اړوند سیمه کې د افغان ځواکونو په برید کې ۳ وسله‌وال طالبان وژل شوي دي.

د بلخ ولایت د شولګرې ولسوالۍ په شیخا او باغ پهلوان سیمو کې وسله‌والو طالبانو د افغان ځواکونو پر پوستو بریدونه وکړل، چې وروسته نښته رامنځته شوه او له کبله یې ۳ وسله‌وال طالبان وژل شوي او ۷ نور ټپیان شوي دي.

**د مارچ ۳۰مه:**

د کندز ولایت د دشت ارچي ولسوالۍ په قولق سیمه کې د افغان ځواکونو او وسله‌والو طالبانو ترمنځ په وسله‌واله نښته کې ٦ وسله‌وال طالبان وژل شوي دي.

د فراه ولایت اړوند برنګتوت سیمه کې د افغان ځواکونو او وسله‌والو طالبانو ترمنځ په وسله‌واله نښته کې، ۴ تنه وسله‌وال طالبان وژل شوي او ۳ نور ټپیان شوي دي.

د فارياب ولايت د قيصار ولسوالۍ په صوفي قلعه ولسوالۍ کې ۲ تنه وسله‌وال طالبان په امنيتي پېښو کې وژل شوي دي.

د جوزجان ولايت په مرديان او قرقين ولسواليو کې د افغان ځواکونو او وسله‌والو طالبانو ترمنځ په وسله‌واله نښته کې ۱۰ تنه وسله‌وال طالبان وژل شوي او ۱۶ تنه نور ټپيان شوي.

**د مارچ ۳۱مه:**

د کندز ولايت په امام صاحب ولسوالۍ کې د افغان ځواکونو په برید کې ٦ وسله‌وال طالبان وژل شوي او ۵ نور ټپیان شوي دي.

**د اپرېل لومړۍ:**

د سمنګان ولايت د ايبک ښار په منقوتن سيمه کې، د افغان ځواکونو په برید کې ۲ وسله‌وال طالبان وژل شوي او ۲ نور ټپيان شوي دي.

د فارياب ولايت په المار او قرمقول ولسواليو کې د افغان ځواکونو په دوو بېلابېلو بريدونو کې، ۹ تنه وسله‌وال طالبان وژل شوي او ۱۰ نور ټپيان شوي دي.

د کندهار ولايت په خاکريز ولسوالۍ کې د افغان امنيتي ځواکونو په يوه کمين کې، ۱۳ تنه وسله‌وال طالبان وژل شوي دي.

د کندهار ولايت د شاه وليکوټ ولسوالۍ په مانو سيمه کې د افغان ځواکونو په هوايي بريد کې ۱۱ تنه وسله‌وال وژل شوي او ۳ نور ټپيان شوي دي.

**د اپرېل ۲مه:**

د کاپيسا ولايت په نجراب ولسوالۍ کې د افغان ځواکونو او وسله‌والو طالبانو ترمنځ په وسله‌واله نښته کې ۳ تنه وسله‌وال وژل شوي دي.

د جوزجان ولايت په منګجيګ ولسوالۍ کې وسله‌والو طالبانو پر يوه امنيتي پوسته بريد وکړ، چې له کبله يې ٦ تنه وسله‌وال طالبان وژل شوي دي.

**جدول-۲: د دولت وسله‌والو مخالفینو ته اوښتي مرګ‌ژوبله:**

| نوم | وژل شوي | ټپيان | ټول وژل شوي او ټپيان |
|---|---|---|---|
| طالبان | ۱۴۷ | ۷٦ | ۲۲۳ |
| داعش | - | - | - |
| مجموعه | **۱۴۷** | **۷٦** | **۲۲۳** |

## ملکي وګړو ته اوښتي مرګ‌ژوبله

**د مارچ ۲۷مه:**

د کاپيسا ولايت په شاه‌کو سیمه کې د ملکي وګړو پر يوه موټر، چې د نجراب ولسوالۍ په لور روان و، وسله‌والو طالبانو ډزې وکړې، چې له کبله يې يو ملکي وګړی وژل شوی او يوه ښځه او يو ماشوم ټپيان شوي دي.

**د مارچ ۲۸مه:**

د پکتيا ولايت د ګرديز ښار په ابراهيم خېلو کلي کې يو ماشوم د ماين چاودنې له کبله وژل شوی او ۲ نور ټپيان شوي دي.

همدا راز د پکتيا ولايت په احمد آباد ولسوالۍ کې وسله‌والو طالبانو يو ملکي وګړی چې د کرکټ په لوبه بوخت و، په ډزو وواژه.

د ننګرهار ولايت د لعلپورې ولسوالۍ په سربند سیمه کې د يوه ديني عالم په موټر پورې د نښلول شوي ماين په چاودنه کې نوموړی عالم او زوی يې وژل شوي او ۲ تنه نور ټپيان شوي دي.

د هلمند ولايت د مرکز لښکرګاه ښار په بولان سیمه کې، په يوه کور کې د ننه چاودنه شوې چې له کبله يې ۴ ماشومان وژل شوي دي.

د سمنګان ولايت په دره صوف ولسوالۍ کې په وسله‌واله نښته کې ۴ تنه ملکي وګړي وژل شوي دي.

د بغلان ولايت په بغلان مرکزي ولسوالۍ کې پر يوه ځانمرګي بريدګر د خپل ماين په چاودنه کې يو ماشوم ټپي شو.

د کندز ولايت د علي‌آباد ولسوالۍ په ارباب رمضاني سیمه کې د وسله‌والو طالبانو په برید کې يو ملکي وګړی ټپي شوی دی.

**د مارچ ۲۹مه:**

د تخار ولايت په خواجه غار ولسوالۍ کې وسله‌والو طالبان د امنيه قوماندان پر کور برید وکړ، چې له کبله يې د پولیسو ترځنګ يو ملکي وګړی هم وژل شوی دی.

په ډايکندي ولايت کې د افغان ځواکونو او وسله‌والو طالبانو ترمنځ په وسله‌واله نښته کې يو ملکي وګړی هم وژل شوی دی.

**د مارچ ۳۰مه:**

د تخار ولايت په خواجه غار ولسوالۍ کې د افغان ځواکونو او وسله‌والو طالبانو ترمنځ په وسله‌واله نښته کې يو ملکي وګړی وژل شوی دی.

د فارياب ولايت د قيصار ولسوالۍ په صوفي قلعه ولسوالۍ کې په بېلابېلو امنيتي پېښو کې، ۳ تنه ملکي وګړي وژل شوي دي.

**د مارچ ۳۱مه:**

د تخار ولايت د کلفګان ولسوالۍ په خان دستمال سيمه کې د دوو غير مسئووله وسله‌والو کسانو په برید کې ۳ تنه ملکي وګړي وژل شوي دي.

په فارياب ولايت د دوو زندانيانو ترمنځ لفظي شخړه رامنځته شوې، چې له کبله يې يو تن وژل شوی دی.

**د اپرېل لومړی:**

د هلمند ولايت په نهر سراج ولسوالۍ کې د سړک تر غاړې د ځای پر ځای شوي ماين په چاودنه کې ۸ تنه ملکي وګړي وژل شوي او ۲ نور ټپيان شوي دي.

**د اپرېل ۲مه:**

پروان ولايت کې ناپېژاندو وسله‌والو يو د ټکسي موټر چلوونکی په دې پلمه چې ناروغ تر روغتون پورې ورسوي، په دزو وواژه.

**جدول-۳: ملکي وګړو ته اوښتي مرګ‌ژوبله:**

| نوم | وژل شوي | ټپيان | ټول وژل شوي او ټپيان |
|---|---|---|---|
| ملکي وګړي | ۳۲ | ۱۰ | ۴۲ |
| مجموعه | **۳۲** | **۱۰** | **۴۲** |

## پایله او د اوونۍ تحلیل

د راپور د شمېرو له مخې، د روان لمریز ۱۳۹۹ کال د وري له ۸مې تر ۱۴مې (د ۲۰۲۰م د مارچ له ۲۷مې اپرېل تر ۲مې) نېټې پورې د ټول هېواد په کچه ۴۰۵ تنو ته مرګ‌ژوبله اوښتې، چې ۲٦۰ یکې وژل شوي او ۱۴۵ نور هم ټپیان شوي دي.

په دې اوونۍ کې د جګړې د مرګ‌ژوبلې مجموعي کچه ټیټه شوې ده. د افغان ځواکونو مرګ‌ژوبله دا اوونۍ د تېرې اوونۍ په پرتله د کموالي ښودنه کوي. په تېره اوونۍ کې ۹۱ تنه افغان امنیتي سرتېري وژل شوي وو؛ خو په دې اوونۍ کې ټول ۸۱ افغان امنیتي سرتېري وژل شوي دي. د دولت د وسله‌والو مخالفینو د مرګ‌ژوبلې کچه هم د تېرې اوونۍ په پرتله ټیټه ده. په تېره اوونۍ کې ۱۵۹ تنه د دولت وسله‌وال مخالفین وژل شوي وو؛ خو په دې اوونۍ کې ۱۴۷ تنه وسله‌وال وژل شوي دي. د ملکي وګړو د مرګ‌ژوبلې کچه هم د تېرې اوونۍ په پرتله د کموالي ښودنه کوي. په تېره اوونۍ کې د ملکي وګړو د وژل شوو شمېر ٦۴ تنه و، خو په دې اوونۍ کې بیا دا شمېره ۳۲ تنو ته راټیټه شوې ده (جدول-۴).

دا اوونۍ د جګړې د ښکېلو لورو او ملکي وګړو لپاره یو ځل بیا یوه خونړۍ اوونۍ وه. په دې اوونۍ کې ملکي وګړو ته ډېره مرګ‌ژوبله د دولت د وسله والو مخالفینو په بریدونو او د سړک تر غاړې ځای پر ځای شوي ماینونو په چاودنو کې اوښتې. په یوه پېښه کې د هملند ولایت په نهر سراج ولسوالۍ کې د سړک ترغاړې د ځای پر ځای شوي ماین د چاودنې په پایله کې ۸ تنه وژل شوي دي، چې یاد کسان په ټونس ډوله موټر کې د هلمند ولایت له نهر سراج ولسوالۍ څخه د ولایت مرکز ته روان وو، په وژل شوو کسانو کې ښځې او ماشومان هم شامل وو.

له بله پلوه افغان حکومت تېره اوونۍ له وسله‌والو طالبانو سره د سولې د خبرو لپاره د معصوم ستانکزي په مشرۍ خپل پلاوی اعلان کړ، چې په یکې فاطمه ګیلاني، نادر نادري، عبدالمتین بیک، فوزیه کوفي، ضرار احمد مقبل، عبدالهادي ارغندیوال، حبیبه سرابي، محمد رسول طالب، ډاکټر غیرت بهیر، محمد حفیظ منصور، غلام فاروق مجروح، مولوي عنایت الله بلیغ، باتور دوستم، کلیم الله نقیبي، محمد ناطقي، جنرال ایوب انصاري، شهلا فرید، شریفه زرمتی، خالد نور او ډاکټر امین احمدي ټاکل شوي دي. د امریکا د بهرنیو چارو وزیر او نورو ګڼ شمېر لورو له طالبانو سره د سولې د خبرو اترو لپاره د افغان حکومت د پلاوي د معرفي کولو هرکلی کړی او هغه ټول شموله بولي، خو یو شمېر افغان سیاسیون بیا له طالبانو سره د خبرو لپاره د افغان حکومت پلاوی ټول شموله نه بولي. همدا راز طالبانو هم د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره د افغان حکومت له لوري اعلان شوی پلاوی رد کړی. د طالبانو اعلامیه کاږي، چې له یوې خوا دا پلاوی د ټولو افغان سیاسي لورو استازیتوب نه کوي او له بلې خوا له امریکا سره د شوي توافق له مخې، دوی له

افغان حکومت سره د یوه سیاسي لوري په توګه خبرې کوي او د حکومت له لوري د پروسې انحصار نه مني. له همدې کبله داسې ښکاري، چې دغه اختلاف به د بین الافغاني خبرو اترو د ځنډ لامل شي.

په بل اړخ کې بیا د بندیانو پر تبادلې د خبرو اترو لپاره د طالبانو پلاوی کابل ته رسېدلی، خو لا هم د بندیانو د تبادلې پر موضوع هم دواړه لوري هوکړې ته نه دي رسېدلي؛ ځکه طالبان له امریکا سره د شوي توافق له مخې د خپلو بندیانو خوشې کول غواړي؛ خو حکومت لا هم د بندیانو هغه ډول خوشې کولو ته تیار نه دی. د بندیانو په تبادله کې اختلافات هم هغه موضوع ده چې بین الافغاني خبرې اترې یې له ځنډ او ځنډ سره مخ کړې دي.

دا په داسې حال کې ده چې د جګړې په ډګر کې تاوتریخوالی ورځ تر بلې زیاتېږي او له کبله یې د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پمپیو او د ناټو سرمنشي ینس ستولتینبرګ ویلي چې د افغانانو ترمنځ د خبرو اترو د پیل په درشل کې اړینه ده چې طالبان تاوتریخوالی راکم کړي او په دې توګه د هغې هوکړې درناوی وکړي چې دغې ډلې له امریکا سره لاسلیک کړې ده.

قاصد د ستراتېژیکو څېړنو مرکز په هیواد کې د جګړې د مرګ‌ژوبلې د څارونکې ارګان په توګه ټینګار کوي، چې په هیواد کې د رواني وینې تویېدنې او خونړي وضعیت پای یوازې او یوازې د بهرنیو ځواکونو د بشپړ وتلو او بین الافغاني تفاهم له لارې شونی دی. له همدې کبله پر افغان حکومت او نورو ښکېلو لورو غږ کوو، چې د سولې هڅو ته جدي پام واړوي او له دغې ملي مسئلې سره مسؤولانه چلند وکړي.

**جدول-۴: د جګړې د ښکېلو لورو او ملکي خلکو مجموعي مرګ‌ژوبله:**

| نوم | وژل شــــوي | نوم | ټپیـــــــان |
|---|---|---|---|
| افغان ځواکونه | ۸۱ | افغان ځواکونه | ۵۹ |
| د دولت وسلەوال مخالفین | ۱۴۷ | د دولت وسلەوال مخالفین | ۷٦ |
| ملکي وګړي | ۳۲ | ملکي وګړي | ۱۰ |
| بهرني ځواکونه | - | بهرني ځواکونه | - |
| **مجموعه** | **۲٦۰** | **مجموعه** | **۱۴۵** |
| **ټول وژل شوي او ټپیان** | **۴۰۵** | | |

پای